# د افغانستان د سوداګرۍ او صنایعو اتاق

## د کار و بار د وضعیت سروې

د ۱۳۹۵ کال د تلې میاشت

د جي آی زیډ اداري په همکارۍ

**د افغانستان د سوداګرۍ او صنایعو اتاق**

# د کار و بار د وضعیت سروې

د ۱۳۹۵ کال د تلي میاشت

د جي آی زیډ اداري په همکارۍ

**سترې موندنې:**

- د تیر سروې په پرتله د کار و بار وضعیت ښه شوی، خو د راتلونکي شپږو میاشتو لپاره د خوشبیني کچه کمه شوې، زمونږ له نظره دا کمښت د موسم د بدلون له کبله رامنځته شوی دی.
- دا ځل سیمه ییز توپیرونه کم شوي دي، بلخ ښه پرمختګ او ننګرهار د پام وړ کمښت ښودلی دی.
- د متشبثینو د فرمایشونو عمومي بیلانس منفي دی خو، د تېرې سروې په پرتله یې وده موندلې ده.
- امنیت، د مارکیټ غوښتنې او اداري اصلاحاتو ته اړتیا د کار و بار د پرمختګ لپاره ستر مطلوب پرمختګونه شمېرل کېږي.
- په ټولو څلورو سروې شویو سکتورونو کې، شرکتونو د تیرو وختونو په پرتله لږ کارکونکي په دندو ګومارلي دي.

**الف. د کار و بار شرایط:**

د کاروبار شرایط د کورنیو ناخالصو تولیداتو د ودې د پېژندنې لپاره یو شاخص دی. دغه شاخص د څو راتلونکو میاشتو لپاره د کورني ناخالص تولید په کچه کې د بدلونونو وړاندوینه کوي، په دې شرط چې په دې موده کې د اقتصاد په عمومي شرایطو کې د وړاندوینې وړ بدلونه رامنځته نه شي.

د کاروبار د شرایطو شاخص د راتلونکو شپږو میاشتو لپاره د کاروبار د وضعیت او سوداګریزو هیلو په اړه د شرکتونو د مسوولینو پر قضاوت ولاړ دی، چې د منل شوي نړیوال معیار له مخې محاسبه کېږي (د لا زیاتو معلوماتو لپاره د راپور په پای کې ضمیمې ته مراجعه وکړئ).

د دې شاخصونو بیه د صفر( یعنی نورمال) او مثبت ۱۰۰ ترمنځ ده، هغه داسې چې صفر د عادي په مفهوم دی، له صفر نه تر مثبت ۱۰۰ پورې د کاروبار مثبت شرایط او له صفر نه تر منفی ۱۰۰ پوری د کار و بار منفی شرایط بلل کیږي.

**الف.۱- د کار و بار عمومي شرایط او د هر ولایت په تفکیک د کاروبار شرایط:**

د کابل، بلخ، کندهار، ننګرهار او هرات لپاره د ۱۳۹۵ کال د تلي په میاشت کې د کار و بار د عمومي شرایطو شاخص په مجموع کې منفی (۶،۸۱-) دی، په داسې حال کې چې په مخکینۍ سروې کې دغه شمیر (۶،۷۰-) ؤ.

د تیرې سروې په پرتله په عمومي وضعیت کې کوم د پام وړ بدلون نه دی راغلی خو د کار و باریانو د اعتماد او باور کچه لوړه شوې دي. (یعنی له ۴۱،۴۳- څخه ۲۰،۵- ته رسیدلی دی)؛ په داسې حال کې چې برعکس د تیرې سروې په پرتله د راتلونکو شپږو میاشتو په هکله هیله مندي کمه شوې ده. ( یعنی له ۲۲،۵ څخه ۴،۲۸ ته لوړه شوی ده). او زمونږ له نظره دا توپیر موسمی اړخ لرلای شي ( یعنی ترسره شوی سروي د محصولاتو د راټولو په موسم کې چې، وروسته هوا سړېږي ترسره شوی ده).




د بلخ او د کابل کاروبار د تیرې سروې په پرتله ښه والی ښيي، خو د دواړو ولایتونو د کار و بار د وضعیت شاخصونه اوس هم منفي دی. د کندهار او ننګرهار د ولایتونو د کار و بار وضعیت لږ خراب شوی دی خو، د کابل، هرات او بلخ په پرتله په ښه حالت کې دی.




**الف.۲- د سکتور په تفکیک د کار و بار شرایط:**

دغه سروې په تولیدي او خدماتي سکتورونو کې د ځینو پرمختګونو ښکارندوي دی، چې په ترتیب سره د پخوانۍ سروې شوی حالت څخه ( -۴,۲ او -۱۷,۹ ) اووسنی د سروې حالت (-۱,۵ او ۱۰,۷) د پرمختګ ښکارندوی کوي. د خدمتونو په سکتور کې د مثبتو بدلونونو سره سره ، دا سکتور اوس هم تولید او سواګری سکتورونو په پرتله په ناوړه حالت کې دی. د ساختمان سکتور (-۱۶,۷) د ټولو سکتورونو په پرتله خراب وضعیت راپور ورکړی دی.

د کار و بار اوسني فعالیتونه په ټولو سکتورونو کي د مثبت او منفي ځوابونو د حاصل تفریق توازن د ۱۰- او ۲۸- ترمنځ ده، په داسی حال کي چي شپږو راتلونکو میاشتو ته تولیدي او خدماتي شرکتونه د تجارتي او ساختماني شرکتونو په پرتله ډیر هیله من دي.




**الف.۳- د شرکتونو د کچي په تفکیک د کار و بار شرایط:**

د سترو او منځنیو شرکتونو لپاره هیڅ کوم مهم پرمختګ نه ده بنودل شوی خو د معمول په څېر، د سترو متشبثینو لپاره د کوچنیو او منځنیو شرکتونو په پرتله د کار و بار شرایط بنه بنودل شوی دی.

د ۱۳۹۵ کال د تلي په میاشت کي د کوچینو او منځنیو شرکتونو لپاره د کاروبار د شرایطو کچه (-۱۳,۸۸) وه، خو اوسمهال دغه کچه (-۱۲,۱۲) ته لوړه شوي ده.

د سترو شرکتونو لپاره د کاروبار د شرایطو کچه (-۱) ده، په داسی حال کي چي په تیره سروې کي دغه شمیره (-۱,۵) وه. د یادوني وړ دی، چي سترو شرکتونو خپل د کار و بار شرایط خراب (-۱۰,۵) بنودلی وو، خو د کارو بار شرایط راتلونکي شپږو میاشتو ته هیله مند (۸,۵) دي.




**ب. فرمایشونه**

د کاروبار د حالت د ارزوني لپاره يو بل فکتور د فرمایشونو حالت دی. د يادوني وړ ده، چې د مثبت او منفي ځوابونو د تفريق حاصل ددې بخش شميرې دي.

د کار و بار په فرمايشونو کې د تيرې سروې په پرتله، پدې سروې کې ډير پرمختګونه ليدل کيږي. خو د دې پرمختګونو سره سره، د فرمايشونو په شاخصونو کې د کار و بار مثبت نښه نه ترسترګو کيږي. په تېرې سروې کې، د فرمايشونو شاخص (۶۳,۵۷) و خو داخلي(۳۳,۳۹) ته رسيدلی دی.

**ج- د ګمارني هيلي:**

د دې سروې مطابق، شرکتونه د راتلونکې ګمارني په هکله هيله من دي، خو له تېرو دريو مياشتو راهيسې خپل کارکوونکي کم کړې دي.

د ګمارني لپاره د متشبثينو د عمومي هيله منتيا شاخص د سکتور له تفکیک پرته (۴,۲۸) دی، چې د تير سروې سره ډير توپير نلری (۴,۶۴).




د یادونې وړ ده، چې د ګمارنې اوسنۍ وضعیت د تیرې سروې د ځواب ویونکو د هیلو په پرتله ډېر توپیر لري. د زمری په میاشت کې شرکتونو ویلې و، چې هیله لري په درېیو راتلونکو میاشتو کې د ګمارنې کچه په منځنۍ کچه شاوخوا (-۴,۶۴) کموالی ومومي، خو له دې سروې سره سم په درېیو تیرو میاشتو کې یې نزولي لورى خپل کړي دي. د هغو ځواب ویونکو شمېر چې ویلي یې دي کارکوونکي یې (۲۲,۸۶) سلنه ډیر شوی دي د هغو کسانو څخه زیات دي چې ویلی یې دي، په تیرو درېیو میاشتو کې یې ډیر کارکوونکو یې ګمارلي دی.

ودانیزو شرکتونو (-۳۸,۱) او سوداګریز سکتور (۲۵,۵۲) خپل کارکوونکي، د خدمات (-۱۷,۹۳) او تولیدی سکتور د (-۱۵,۱۵) په پرتله زیات کارکوونکي له لاسه ورکړي دي. دا سروی ښیې، چې د تېرو درېیو میاشتو په پرتله ټول شرکتونه په راتلونکو درېو میاشتو کې د ګمارنې د کچې لوړیدو په هکله خوشبین دي.

**د.امنیتي وضعیت:**

په عمومي ډول، شرکتونه په دې باوری دي، چې امنیتي ګواښونه د تیرو میاشتو د سروې په پرتله کم شوی دې، خو یوازې ننګرهار د یو مثبت امنیتي شاخص (۷,۷) درلودونکی وو، په داسې حال کې چې د نورو شاخصونو په اړه منفي راپورونه شتون لري.

کندهار، چې په څو تېرو نظرپوښتنو کې یو مثبت امنیتي شاخص درلود، د یو خراب حالت (-۲,۲۲) درلودونکی دی، خو بیاهم د بلخ (-۴۶,۶۷) او کابل (-۱۷,۵) په پرتله ښه حالت کې دی.




**هـ. د کاروبار پر وړاندې پراته خنډونه:**

د تېر سروې په څېر، د سترو تجارتي خنډونو ارزوني ښيي، چې د کاروبار د پراختیا په وړاندې تر ټولو عمده خنډ امنیت دی؛ تر امنیت وروسته د تولیداتو او خدماتو لپاره بازار او تقاضا، پیاوړي بیخ بناوې، مالي سرچینو ته لاسرسی او اداري اصلاحات هغه لاملونه دي، چې د کار و بار د پرمختګ لپاره اړین شمېرل کېږي.



**ضمیمه:**

**د کاروبار تعریف**

د کاروبار شرایط د تولیدي، ودانیزو، خدماتي او سوداګریزو شرکتونو د دوریي سروې پر بنسټ مشخص کیږي. د شرکتونو له مسوولینو څخه د اوسني وضعیت او د راتلوونکو شپږو میاشتو د هیلو او تقاضاوو په اړه پوښتل کیږي. هغوی د خپل کاروبار وضعیت د درېیو انتخابونو( له عادي څخه ښه، عادي، له عادي بدتر) او خپلې هیلې یې له درېیو انتخابونو څخه د یوه په انتخاب سره( ښه به شي، بدلون به ونه کړي، بدتر به شي) ټاکي.

له عادي څخه ښه انتخاب (مثبت) او له عادي بدتر (منفي) انتخاب فرض کوو، د اوسني وضعیت شاخص د مثبتو او منفي ځوابونو د تفریق له سلنې یا فیصدۍ څخه ترلاسه کیږي. دغه راز دهیلو شاخص د (ښه به شي) او (بدتر به شي) د انتخابونو د سلنې ترمنځ له توپیر څخه ترلاسه کیږي.

د کاروبار شرایط د کاروبار د وضعیت او هیلو د منځنۍ حسابي څخه عبارت دي.

په لومړۍ سروې کې (عادي) او (بدلون به ونه کړي) انتخابونو ته صفر په پام کې نیول کیده. د کاروبار شرایط له صفر څخه تر مثبت ۱۰۰ پورې (زیات) او منفي ۱۰۰ کم کولای شي، بدلون وومومي. وروسته چې کله زماني سروې ګانې (time series) رامنځته شوې د کاروبار د صفر نکته د کال د سروې پایلو ته په پاملرنې سره ټاکلې معیار ګرځي او راتلونکې کلونه د هغه پر بنسټ سنجول کیدای شي.

**چمتو کوونکي: یونس نګاه، نعمت الله علیشیریان او داکتر مسعود پروانفر**

**مرکه کوونکي: نصرت الله ویس، فضل، سنګر او محمد سراج**

**ژباړه: محمد اکرم سدید**

**د تحقیق د دفتر بریښنا لیک:** research1@acci.org.af